د تیموتیوس په نوم د پولوس رسول دوېم خط

پېژندګلو

پولوس رسول دا خط هغه وخت ولیکلو کله چې هغۀ د خپل آخری وخت انتظار کولو. اګر چې پولوس رسول مړګ سره مخامخ وو، او د مصیبت د وجې ډېرو دوستانو پرېښودے هم وو، هغه په وفاداری سره د خپل روحانی زوئ تیموتیوس د اُمید هغه طرف ته متوجې کوی چې په حضرت عیسیٰ مسیح کښې دے. په دې خط کښې بنیادی خبره دا ده چې تکلیفونه د ایماندار د ژوند یوه برخه ګڼلے شی خو کله چې مونږ د دې تکلیفونو سره مخامخ کیږُو نو د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ایمان او د خُدائ پاک او د زیری په طاقت سره مونږ د دې برداشت کولے شُو. پولوس رسول تیموتیوس ته په کلکه فرمائی چې برداشت کوه او په وفاداری سره د دروغو د تعلیم مقابله وکړه. د حفظ کولو دپاره ۳: ۱۶-۱۷ آیت "هره یوه صحیفه د خُدائ پاک د خوا نه الهام شوې ده او دا د تعلیم ورکولو، ملامتولو، د اصلاح او د صادقه تربیت دپاره فائده مندې هم دی، د دې دپاره چې د خُدائ پاک خِدمتګاران د دې قابل شی او د هر نیک کار کولو دپاره تیار شی."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دُعا او سلام

۱ د پولوس د طرف نه چې د خُدائ پاک په مرضیٰ د عیسیٰ
مسیح رسول دے، او د دې دپاره چې په عیسیٰ مسیح کښې وعده
شوے ژوند خلقو ته ورسوی. ۲ زۀ خپل خوږ زوئ تیموتیوس ته دا
خط لیکم. د خُدائ پلار او زمونږ د مالِک عیسیٰ مسیح فضل، رحم
او سلامتی دې په تا وی. ۳ زۀ د هغه خُدائ پاک شُکر کوم د چا
عبادت چې زۀ په صفا زړۀ د خپل پلار نیکۀ په شان کوم، او زۀ هر
وخت شپه او ورځ په خپلو دُعاګانو کښې تا یادوم. ۴ کله چې زۀ
ستا هغه د جدایۍ د وخت اوښکې رایادې کړم، نو تا سره د بیا لیدو
خواهشمند یم، د دې دپاره چې د خوشحالیۍ نه ډک شم. ۵ ما ته
ستا د مینې نه هغه ډک ایمان رایادیږی کوم چې اول ستا د نیا
لوئیس او ستا د مور یونیکې وو، او اوس زما یقین دے چې ستا هم
دے. ۶ په دې وجه زۀ تا ته دا خبره دریادوم چې تۀ د خُدائ پاک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغه نعمت اور ته پوکے ورکړه کوم چې زما د لاس د کښبودلو په
وسیله تا ته حاصل دے. ۷ ځکه چې خُدائ پاک مونږ له بُزدله زړۍ
نۀ دے راکړے بلکې راله يې زړَورتوب، مینه او په ځان د قابو ساتلو
قدرت راکړے دے. ۸ نو بیا زمونږ د مالِک په حقله د ګواهۍ
ورکولو یا زما نه چې د هغۀ قېدی یم، مۀ شرمېږه، بلکې د خُدائ
پاک د قدرت په وسیله د زیری د خاطره ما سره په تکلیفونو کښې
شریک شه. ۹ خُدائ پاک مونږ له خلاصون راکړو او مونږ يې خپل
مقدس ژوند ته راوبللو. هغۀ دا زمونږ د نېکو کارونو په خاطر ونۀ
کړو، بلکې دا د اول نه زمونږ دپاره د هغۀ منصوبه وه، یعنې د ازل
نه، چې د عیسیٰ مسیح په وسیله په مونږ خپل فضل وکړی. ۱۰ خو
اوس دا زمونږ د خلاصوونکی عیسیٰ مسیح په راتلو سره ښکاره شو
چا چې مرګ نشت کړو، او هغه ژوند يې شتۀ کړو او غېر فانی
ژوندون يې د زیری په وسیله څرګند کړو. ۱۱ د دې زېری د بیانولو
دپاره زۀ رسول او اُستاذ مقرر شوم، ۱۲ او هم په دې وجه زۀ دا
تکلیفونه زغمم. خو زۀ نۀ شرمېږم، ځکه په چا چې ما ایمان راوړے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے زۀ هغه پېژنم، او زما یقین دے چې څۀ چې ما هغۀ ته سپارلی دی د خپلو راتلو تر ورځې پورې هغه د هغې د حفاظت کولو قابل دے. ۱۳ هغه معیاری تعلیم چې تا زما نه په عیسیٰ مسیح کښې د ایمان او مینې په وسیله واورېدو په هغې معیار ژوند تېروه. ۱۴ د هغه روحُ القُدس په وسیله چې په مونږ کښې اوسیږی د هغه قیمتی خزانې حفاظت وکړه چې تا ته سپارلے شوې ده. ۱۵ څنګه چې تاسو ته پته ده چې د آسیه صوبې ټول خلق سره د فوګلوسه او هرموګینیسه زما نه منکر شول. ۱۶ مالِک دې د اُنیسفرس په خاندان رحم وکړی ځکه چې زۀ اکثر هغوئ په هر لحاظ تازه کړے یم، او زما د زولنو نه ونۀ شرمېدو، ۱۷ خو کله چې هغه روم ته راغلو نو ډېر په لیوالتیا یې زما لټون وکړو او زۀ یې وموندلم. ۱۸ مالِک دې په هغه لویه ورځ په هغۀ رحم وکړی، او تۀ ښۀ خبر یې چې په اِفِسوس کښې هغۀ څومره ډېر خِدمت وکړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د حضرت عیسیٰ مسیح ښۀ سپاهی

۱ نو اے زما زویه، نو بیا تۀ په هغه فضل مضبوط شه چې په
عیسیٰ مسیح کښې دے. ۲ او کومې خبرې چې تا د ډېرو ګواهانو
په موجودګۍ کښې زما نه اوربدلی دی هغه داسې وفادارو کسانو ته
په حواله کړه څوک چې نورو ته د تعلیم ورکولو لائق وی. ۳ د
عیسیٰ مسیح د یو ښۀ سپاهی په شان ما سره په سختو زغملو کښې
شریک شه. ۴ یو فوجی خپل ځان په روزمره معاملو کښې نۀ
راګیروی ځکه چې د هغۀ مقصد د خپل آفسر زړۀ ساتل وی. ۵ او
د لوبغاړی په صورت کښې هم تر هغې چا ته انعام نۀ ورکولے کیږی
ترڅو چې یې په قانونی توګه مقابله نۀ وی کړی. ۶ کوم زمیندار
چې محنت کوی نو په کار دے چې د فصل وړومبۍ حِصه هغۀ ته
ورکړے شی. ۷ څۀ چې زۀ وایم په هغې باندې سوچ وکړه نو بیا به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک تا له د ټولو خبرو پوهه درکړی. ۸ یاد ساته چې عیسیٰ مسیح
د مړو نه راژوندے شوے دے او د داؤد د نسل نه دے، دا زما
زیرے دے، ۹ د کوم دپاره چې ما سختی وزغملې تر دې چې د
مجرم په شان په زنځیر وټړلے شوم، خو د خُدائ پاک کلام په زنځیر
ټړلے کېدے نۀ شی. ۱۰ په دې وجه زۀ د غوره شوو د خاطره دا هر
څۀ په خپل ځان برداشت کوم نو د دې دپاره چې هغوئ هم هغه
خلاصون او ابدی جلال چې د عیسیٰ مسیح په وسیله دے حاصل
کړی. ۱۱ دا خبرې رښتیا دی چې، "کۀ مونږ د هغۀ سره مړۀ شُو نو
مونږ به د هغۀ سره ژوندی هم شُو. ۱۲ کۀ مونږ سختی وزغمو نو د
هغۀ سره به بادشاهی هم کوُو، کۀ مونږ د هغۀ نه منکر شُو نو هغه
به هم زمونږ نه منکر شی. ۱۳ کۀ مونږ بې‌وفا شُو خو هغه به وفادار
پاتې شی، ځکه چې هغه نۀ شی کولے چې د خپل ځان نه اِنکار
وکړی."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خُدائی خدمتګاری اصُول

۱۴ دا خبرې هغوئ ته وریادې کړه او د خُدائ پاک په وړاندې
ورته خبردارے ورکړه چې لفظی تکرار دې ونۀ کړی، ځکه چې د
دې نه هیڅ نۀ جوړیږی بلکې صرف اوږدونکی بربادوی. ۱۵ خپل
ځان د خُدائ پاک په وړاندې مقبول او د یو داسې خدمتګار په شان
د پیش کولو کوشش وکړه چې په خپل کار نۀ شرمیږی، او چې د
حق د کلام تعلیم په صحیح توګه پیش کوی. ۱۶ د فضولو خبرو نه
خپل ځان ساته ځکه چې دا خلق لا نور د بې‌دینۍ طرف ته بوځی.
۱۷ د هغوئ خبرې لکه د ناسور په شان خوریږی، او همیناوس او
فیلتوس په هغوئ کښې دی ۱۸ څوک چې د حقیقت نه بې‌لارې
شوی دی او داسې دعویٰ کوی چې د بیا راژوندی کیدلو وخت خو
وشو. او هغوئ د څۀ خلقو ایمان خرابوی. ۱۹ خو بیا هم د خُدائ
پاک بنیاد مضبوط دے او په هغې دا لیکلی دی چې، ”مالِک خپل
هغه خلق پیژنی،“ او، ”څوک چې د هغۀ دی د مالِک نوم اخلی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه دي د شرارت نه واوړی.“ ۲۰ په لوئ کور کښې نۀ یواځې د سرو زرو او سپینو زرو لوښی وی بلکې د لرګی او خاورین لوښی هم وی، دا څۀ د خاص او څۀ د عام استعمال دپاره وی. ۲۱ څوک چې خپل ځانونه د هغه څیزونو نه پاک کړی چې شرمناک وی نو هغه به د خاص استعمال او د عزت لوښی شی او د کور د مالِک د هر ښۀ کار دپاره به تیار او فائده مند وی. ۲۲ نو د ځوانۍ د خواهشاتو نه تښته کوه، او د هغې په ځای د صداقت، ایمان او مینې او د صُلحې طلبګار اوسه، او بیا د هغه کسانو سره شامل شه څوک چې د مالِک نه په پاک زړۀ سره دُعا غواړی. ۲۳ خو د بې‌وقوفۍ او د جهالت د بحثونو نه ځان په ډډه ساته، ځکه تا ته پته ده چې د دې نه صرف جګړې جوړیږی. ۲۴ او دا په کار نۀ دی چې د مالِک خادِم دې جګړمار وی، بلکې هغه دې د ټولو سره نرمی کوی او هغه دې قابل اُستاذ او صبرناک وی. ۲۵ او هغوئ دې مخالفت کوونکی په نرمۍ سره سم کړی ځکه چې کیدے شی چې خُدائ پاک هغوئ ته د توبې کولو توفیق ورکړی نو چې هغوئ حق

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وپیژنی. ۲۶ نو بیا به هغوئ د اِبلیس د دام نه آزاد شی چا چې دوئ
د خپلې مرضۍ د پوره کولو دپاره په هغې کښې نیولی وُو.

په آخری ورځو کښې د خلقو بې‌دینی

۱ خو تاسو په دې پوهه شئ چې په آخری ورځو کښې به
سخت وختونه راځی. ۲ ځکه چې خلق به خود غرضه، لالچیان،
لافې کوونکی، مغروره، ګستاخه، د مور پلار نافرمانه، ناشُکره،
بې‌دینه، ۳ بې‌رحمه، سخت زړۀ لرونکی، غیبت کوونکی، نۀ
زغمونکی، بد خویه، د نېکۍ دشمن، ۴ دوکه باز، بې‌پرواه، کبرژن،
او د خُدائ پاک په نسبت عیش زیات خوښوونکی وی. ۵ هغوئ
به په ظاهره د دینداری نمائش کوی خو په زړۀ کښې به یې یقین نۀ
وی. د داسې خلقو نه ځان ساته. ۶ په دوئ کښې هغه خلق دی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څوک چې کورونو ته په څۀ چل ورننوځی او هغه کم عقلې ښځې په خپل قابو کښې راولی کومې چې په خپلو ګناهونو کښې راګېرې وی او چې د رنګارنګ خواهشونو لاندې راګېرې وی. ۷ داسې ښځې همېشه د زده کولو کوشش کوی خو حق پېژندلو ته نۀ رسېږی. ۸ او څنګه چې ینیس او یمبریس د موسیٰ مخالفت کړے وو، نو دې بې‌عقلو او دروغژنو ایمان لرونکو سړو هم د حقیقت مخالفت وکړو. ۹ خو هغوئ به ډېره ترقی ونۀ کړی ځکه چې د هغه دوو سړو په شان به د دوئ کم عقلتوب هم هر چا ته څرګند شی.

آخری نصیحت

۱۰ خو تۀ زما د تعلیم، زما د چال چلن، زما د ژوند د مقصد، زما د ایمان، زما د زغم، زما د مینې او په ایمان کښې زما د مضبوطوالی نه خبر یې. ۱۱ تا ته پته ده د هغه سختیِ او تکلیفونو یعنې هغه تکلیفونه کوم چې په اَنطاکیه، اِکونیوم او په لستره کښې په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما راغلل خو مالِک زۀ د هغې ټولو نه بچ کړم. ۱۲ په حقیقت کښې هر هغه څوک چې د عیسیٰ مسیح په یووالی کښې په دینداری ژوند تېرول غواړی، نو هغوئ به زورول کیږی. ۱۳ خو خراب او دوکه باز خلق به نورو له په دوکه ورکولو او دوکه خوړلو کښې لا زیاتیږی. ۱۴ خو تۀ په هغه خبرو عمل کوه کومې چې تا ته درښودلے شوې دی او ستا یقین دے چې هغه رښتیا دی، او تۀ په دې پوهه یې چې چا تا ته درښودلی دی. ۱۵ او تۀ د وړوکوالی نه د هغه پاکو صحیفو نه خبر یې، کومې چې تا ته په عیسیٰ مسیح د ایمان راوړلو په وسیله د خلاصون پوهه درکوی. ۱۶ هره یوه صحیفه د خُدائ پاک د خوا نه الهام شوې ده او دا د تعلیم ورکولو، ملامتولو، د اصلاح او د صادقه تربیت دپاره فائده مندې هم دی، ۱۷ د دې دپاره چې د خُدائ پاک خِدمتګاران د دې قابل شی او د هر نېک کار کولو دپاره تیار شی.

۱ د خُدائ پاک او د عیسیٰ مسیح په حضور کښې څوک چې به د ژوندو او د مړو عدالت کوی، او د هغۀ د ظاهرېدو او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاهیِ په یاد کښې زۀ په تا زور راوړم چې، ۲ تۀ د کلام زیرے ورکوه او وخت ناوخته دې کار ته تیار اوسه، او په تعلیم ورکولو کښې په صبر سره د هغوئ اصلاح کوه او ملامتوه یې او ورته ډاډګیرنه هم ورکوه. ۳ ځکه چې داسې وخت راروان دے چې خلق به صحیح تعلیم نۀ زغمی، بلکې د خپلې خوښې په مطابق به داسې اُستاذان راټول کړی چې هغوئ ته به هغه څۀ وښائی چې کوم اوربدل غواړی. ۴ خو هغوئ به حق ته غوږ نۀ کیږدی او فرضی قیصو پسې به ګرځی. ۵ خو تۀ په هر حالت کښې خپل ځان په هوش کښې ساته، سختیِ وزغمه، د زیری کار کوه او د خُدائ پاک د خادِم په حیث خپل خِدمت پوره کوه. ۶ ترڅو چې زما خبره ده زۀ خو د مخکښې نه لکه د میو نذرانې په شان په قربان ګاه شیندلے شوے یم او زما د رخصتیدو وخت راغلے دے. ۷ ما ښۀ جنګ وکړو، خپله منډه مې پوره کړه، او تر آخره په خپل ایمان قائم پاتې شوم. ۸ نو د اوس نه د صداقت تاج زما دپاره تیار دے، کوم چې به د صداقت قاضی مالِک ما ته په هغه ورځ راکړی، او دا صرف زما دپاره نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بلکې د هغوئ ټولو دپاره هم دے ځوک چې د هغۀ د راتلو خواهشمند دی.

ذاتی نصیحتونه

۹ خو کوشش وکړه چې ما له زر تر زره راشئ. ۱۰ ځکه چې دیماس د دې موجوده دُنیا په مینه کښې زۀ پرېښودلم او تِسالونیکې ته لاړو او کریسکینس ګلتیه ته لاړو او تیطوس دلماتیه ته لاړو. ۱۱ صرف لوقا ما سره دے خو مرقوس راپیدا کړه او ځان سره یې راوله ځکه چې هغه زما سره په خِدمت کښې فائده مند دے. ۱۲ ما تخیکوس اِفِسوس ته لیږلے دے. ۱۳ کله چې تۀ راځې هغه چُوغه چې ما د تروواس په ښار کښې د کرپس په کور کښې پرېښې ده او زما کتابونه او خاص کر زما هغه د څرمنې نسخې هم ځان سره راوړه. ۱۴ سکندر مسګر ما ته لوئ نقصان راکړے دے. خو مالِک خُدائ به هغۀ ته د خپل عمل په مطابق بدله ورکړی. ۱۵ او تۀ هم د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغۀ نه ځان ساته، ځکه چې هغۀ زمونږ د پېغام ډېر په سختۍ سره
مخالفت کړے دے. ۱۶ په عدالت کښې زما د اولنۍ پېښۍ په
وخت څوک هم ما سره ونۀ درېدل بلکې ټولو زۀ ځانله پرېښودم.
خُدائ دې هغوئ په دې ګناه ونۀ نیسی. ۱۷ خو مالِک ما سره
ودرېدو او هغۀ ما له طاقت راکړو، چې زما په وسیله دا پېغام پوره
بیان کړے شی چې ټول غېریهودیان یې واوری. نو زۀ د زمری د خُلې
نه دغه شان بچ کړے شوم. ۱۸ مالِک به ما د هر شېطانی حملې نه
بچ کوی او خپلې آسمانی بادشاهۍ ته به مې په حفاظت رسوی. د
هغۀ لوئی دې تل تر تله وی. آمین.

آخری دُعا او سلام

۱۹ په پرسکله، اکوله او د اُنیسفرس په خاندان مې سلام ووایه.
۲۰ اِراستوس په کورنتوس کښې ایسار شو او تروفیموس ما په میلیتوس
کښې بیمار پرېښودو. ۲۱ خپل کوشش پوره وکړه چې د ژمی نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مخکښې راشې. یوبولوس، پودنس، لینوس، کلودیه او نور ټول وروڼه
او خویندې درته سلام وائی. ۲۲ مالِک دې ستاسو مل وی او په
تاسو ټولو دې د خُدائ پاک فضل وی.